مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

یارمحمد تره کی
د اوبو د مدیریت او نړیوال پرمختګ متخصص

۲۰۲۰/۰۲/۲۲

# د افغانستان د اوبو منابع، د لوی فرصت نه لویې ستونزې خوا ته

افغانستان د ابو له خواه تر خپلو ګاونډیو غنی هیواد دی. د افغانستان د اوبو زیرمی د یوه کس پر سر په کال کی څه د پاسه ۲۴۰۰ متر مکعبه دی. په داسی حال کی چې د ایران د اوبو منابع په کال کی د یوه کس پر سر ۱۲۰۰ متر مکعبه او د پاکستان د اوبو منابع د یوه کس پر سر په کال کی ۱۴۰۰ متر مکعبه دی. افغانستان د خپلو ټولو ګاونډیو لپاره د پورتنی هیواد په توګه شمیرل کیږی او اوبه نورو ته ورکوی. د افغانستان د اوبو زیرمو اصلی سر چینه د هندوکش همالیه (HKH) د غرونو یخچالونه دی. په تیرو سلو کلونو کی ګاونډیو هیوادونو ته د اوبو په ورکړی کی کمښت ندی راغلی.
د افغانستان دچاړواکو د بی غوری او بی توجهی له امله زمونږ هیواد تر اوسه د ګاونډیو هیوادونو سره د اوبو په باب کاری او اصولی قراردادونه نه لری. په ۱۹۶۱ کال کی هغه وخت چې د نړیوال بانک په ابتکار هند او پاکستان د سند د اوبو قرار داد لاسلیک کړ او د دی لاسلیک له امله په هغه وخت کی یو میلیارد ډالره دواړو هیوادونو ته ورکړل شوی، د افغانستان شاهی اداره دی قرار داد ته د شاملیدو لپاره هیڅ توجه ونکړه. په داسی حال کی چې د کابل سیند د سند دریاب ته څه دپاسه ۱۱٪ اوبه ورکوی. په همدی توګه د آمو د سیند د هیوادونو هغه شورا چې د شوروی اتحاد د جمهوریتونو له خوا جوړه شوی وه په هغه کی هم افغانستان شامل نه کړای شو. د هیواد چاړواکو دغه منطقوی اداری ته د ور ننوتلو لپاره هڅه هم ونکړه. د ایران سره د هلمند د اوبو د حوزی قرار داد که څه هم چې لاسلیک شو خو د افغانستان د پاچاه د ناپوهی او د تخنیکی ټیټی وړتیا له امله په قرار داد کی ایران ته په ثانیه کی د ۲۲ متر مکعبه اوبو پر ځای ۲۶ متر مکعبه اوبه و منل شوی. اوس که مونږ د ۱۹۷۳ کال نه را پدیخواه په ثانیه کی ۴ متر مکعبه اوبه حساب کړو نو دا به نهه پنځوس میلیارده او دوه سوه میلیونه (۵۹۲۰۰۰۰۰۰۰) متر مکعبه اوبه شی چې د پاچا له خوا د ایران هیواد ته د ښه نیت پر بنیاد تُحفه شوی دی.
د امریکی د نظامی مداخلی نه وروسته او په تیره بیا د حامد کرزی د حکومت په دوران کی د هیواد د اوبو د مهارولو په باب داسی کوم کوټلی کار و نشو. یوازی د هیواد د اوبو د ښه مدیریت په باب د افغانستان د ملی پرمختګ په ستراتیژی کی مهمی مسلې په نخښه شوی وی چې د څوارلسو کلونو په تیریدو سره د هغو په عملی کولو کی کومه کړنلاره نه وه موجوده.
په ۲۰۱۴ کال کی هغه وخت چې ولسمشر ډاکتر اشرف غنی د هیواد واګی په لاس کی واخیستی نو د هیواد د اوبو د مدیریت لپاره یی د کوټلی ګامونو وعده وکړه. د دی سره سم د اوبو د سم مدیریت په لاره کی نوی امیدونه راوغوړیدل. په همدی وخت کی د هیواد د اوبو د مدیریت لپاره ډیرو چاړواکو ته چانسونه هم په لاس ورغلل. جمهور رئیس سمدلاسه د جمهوری ریاست په چوکاټ کی د اوبو عالی شورا جوړه کړه. د دغی عالی شورا وظیفه د هیواد د اوبو د مهارولو لپاره د یوه نوی میتود جوړول او د اړونده ادارو د کارونو سمونوالی وو. د دغی شورا په سر کی په خپله جمهور رئیس واقع وو. دغه شورا چې د بهرنیو متخصصینو په همکاری پرانیستل شوی وه خپل کارونه په چټکی پیل کړل او د دی سکرتریت د انرژی او اوبو په وزارت کی وو چې د زراعت وزارت هم په دی شورا کی مهمه ونډه درلودله. د اوبو د متخصص په توګه ما دوه ځلی د دی شورا د سکرتریت په غونډو کی ګډون کړی دی او یو وار می دوی ته د اوبو د انجنیری او مدیریتی ځانګړتیاوو وینا هم کړیده. په دغه غونډه کی ما د هیواد د اوبو د مدیریت لپآره د مخشوشه خطی پروګرام جوړول توصیه کړی وه چې کولای شی د اوبو د مدیریت په لاره کی د ګاونډیو هیوادونو په پرتله ښه مدیریتی ماډل جوړ شی. ډیر ژر دغی شورا ته توجه کمه شوه او د څو میاشتو وروسته د ځمکو د اداری په وړاندیز د ځمکو موضوع هم په دی شورا پسی وتړل شوه او د دی شورا نوم شو: د ځمکو او اوبو عالی شورا: د دغی شورا اصلی مدیریتی او رهبری رول تضعیف شو او د ځمکو د اداری تر تاثیر لاندی راغله.
د جمهور رئیس نه ګډون د شورا په غونډو کی او د بودجوی منابعو په نه سمونتیا کی د دغی شورا رول نور هم را ټیټ شو. څه وخت نه وو تیر چې د لوړو تحصیلاتو د وزارت په ابتکار د اوبو د مدیریت لپاره نوی هلی ځلی پیل شوی. د پوهنتونونو ځینی استادان ، رئیسان ، د وزارت معین او د پولیتخنیک د پوهنتون د رئیس په ابتکار د اوبو د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

یوه نوی ماډل په باب کار پیل شو. په دغه وخت کی زه د تحصیلاتو د وزیر په غوښتنه د اوبو په موضوعګانو کی د دی وزارت رضا کاره سلاکار وټاکل شوم. ما د دی وزارت په هغو غونډو کی ګډون کاوو چې د اوبو د مدیریت او ستراتیژیکو پلانونو په باب وو. دلته هم دوه ګونی پالیسی روانه وه. یوه ډله چې هغه د پولیتخنیک د رئیس او د وزارت د معین له خوا رهبری کیدله په پولیتخنیک پوهنتون کی د اوبو د پلټنو د مرکز د جوړولو مقصد درلود. خو د تحصیلاتو د وزیر او همدارنګه د انجنیری او مځکی پیژندنی د پوهنځی د ځینو استادانو دا نیت وو چې یو ملی مرکز دی جوړ شی چې د هیواد د اوبو پر مسلو باند ریسرچ یا پلټنی وکړی او دولت ته خپل وړاندیزونه ورکړی. په پای کی د پولیتخنیک د پوهنتون د رئیس په ابتکار او د جمهور رئیس سره په نژدی والی کی د یوه نوی مرکز د تاسیس حکم واخیستل شو. په دی لړ کی د عالی تحصیلاتو وزیر له دندی ګوښه شو. په پولتخنیک کی د نوی مرکز د پرانیستلو هڅی چټکی شوی خو د دی مرکز لپاره د بودجوی آسانتیاوو خبر نه وو. په پای کی د پولیتخنیک د رئیس په منډو دغه مرکز د پولتخنیک په چوکاټ کی د بودجی په نه شتون کی پرانیستل شو او امیدونه دی ته وو چې جمهور رئیس به دی مرکز ته توجه وکړی او هغه ته به د یوه ستر تحقیقاتی مرکز په توګه ارتقا ورکړی. د مرکز لپاره د جمهور رئیس په فرمان نوی رئیس وټاکل شواو اداری تشکیلات ورته جوړ شول خو بودجه، علمی او تخنیکی بنسټ یی نه درلود. حتی د دی مرکز د دفترونو وسایل او مهمات د پولیتخنیک د پوهنتون د بودجی له لاری وپیرودل شول. په عین وخت کی د کابل د انجنیری پوهنځی کی هم د افغانستان د اوبو مرکز پرانیستل شو چې د کابل پوهنتون د رئیس ملتیا یی لرله. څرنګه چې زه داوبو د مدیریت په برخه کی تخصصی لیکنی لرم او د مدیریت په باب می یو نوی محاسبوی میتود جوړ کړی دی نو د دغو ټولو مرکزونو اړیکی له ما سره ښی وی. ما هم د وخت په موجودیت کی د ټولو سره ښه همکاری وساتله او امید می دا وو چې بالاخره مونږبه یو سیال او با کفایته مرکز جوړ کړو. په دغه وخت کی د انرژی او ابو په وزارت کی د وزیرانو تغییر اوتبدیلات دوام درلود او د دی وزارت معینانو د اوبو په باب کره موضع نه درلوده.

د ۲۰۱۴ نه بیا تر ۲۰۱۹ پوری د هیواد د لوړ پوړو چارواکو له خوا د هیواد د اوبو د مهارولو په باب ضد او نقیضی وینا ګانی نشریدلی. ځینی وختونه به دا وینا ګانی د علمی او عملی ارقامو نه هم لیری وی او زمونږ ګاونډیان به یی راپارول. د مثال په توګه پاکستانی عالمانو د هالند د هیواد په مالی مرستی د افغانستان د سیاسی چاروکو د اوبو مهارولو د پلانونو جاج اخیستی او هغه یی د دی هیواد ګټو ته د ستر تاوان په توګه ښودلی دی. د افغانستان چارواکو د لسګونو بندونو او د اوبو د درولو ګواښونه کړی دی او دغه خبری د پاکستانی عالمانو لپاره سند ګرځیدلی دی. په هغه مقالو کی چې اختر (۲۰۱۸) ، جاوید اقبال (۲۰۱۹)، شاهد اقبال (۲۰۱۸)، صدیقی نژاد (۲۰۱۷)، عزیز(۲۰۱۳)،نفیس (۲۰۱۶) او نورو له خوا لیکل شوی دی د افغانستان د دولت له خوا د نویو اوبو مهارولو پروژود تطبیق په نتیجه کی د پاکستان اقتصاد او ګټو ته کره کتنه شوی ده او آن دا چې د ځینو مخورو هیوادونو لکه د هالند د هیواد د عالمانو پلوی یی هم له ځانه سره درلودلی دی. دا په داسی حال کی ده چې افغانستان د اوبو د مدیریت داسی یوه مهمه علمی منبع نه لری چې د اوبو د ښه مدیریت په باب علمی، کره او د ثبوتونو نه ډک وړاندیزونه وکړی. له بلی خواه د سیاسی چاراکو د خبرو سره سره د اوبو د ښه مدیریت او د سترو بندونو د جوړولو په باب کره ګامونه هم ندی اخیستل شوی. یوازی د کابل د اوبو په حوزه کی د دیارلسو بندونو اټکل شوی دی چې تر اوسه یو هم ندی تکمیل شوی.

دادی د انرژی او اوبو وزارت چې مخکی یی هم د اوبو او انرژی د ښه سمبالولو په لار کی ښه خدمت نه ووکړی د جمهور رئیس له خوا رنګ او دوی نوی اداری هره یوه د اوبو او د انرژی د منابعو د ادارو په نومونو مینځ ته راغلی دی. په حقیقت کی د ناسم کادری سیاست او د بی کفایته کسانو د ګمارلو په نتیجه کی دغه ستره اداره له مینځه لاړه. اوس دادی د هیواد د اوبو د زیرمو د ښه مدیریت لپاره نوی ستونزی را پاریدلی دی.

له یوی خوا د جمهور رئیس د حکم سره سم د اوبو او چاپیریال ساتنی د پلټنو اداره ده چې مینځ ته راغلی ده او غواړی خپل کارونه سمبال کړی. د دی اداری تر شا د لوړو تحصیلاتو وزیر، د پولی تخنیک رئیس او یو لړ متخصصین ولاړ دی چې باید تقویه شی او بودجوی صلاحیتونه ورته ورکړل شی. له بلی خوا د انرژی او اوبو د وزارت ټوټی کول هم کیدای شی یو ښه چانس وی خو د یوی اداری په موجودیت کی د نوی اداری جوړول او د هغی لپاره د یوه وزارت ورانول باید د یوی سمی محاسبی نه وروسته تر سره شوی وای. په هر صورت د جمهور رئیس د وینا سره سم د افغانستان د اوبو د ښه مدیریت او د ګاونډیو سره د ښه ګاونډیتوب پر اصولو برابر هغه سیاست چې په ۲۰۱۴ کال کی پیل شوی وو د یوه فرصت نه یوی ستونزی ته وده کړی ده. دا په داسی حال کی ده چې زمونږ ګاونډی هیوادونه د هغو اوبو د مدیریت لپاره چې زمونږ او نورو هیوادونو نه یی تر لاسه کوی ستر څیرنیز مرکزونه او انستیتیوتونه جوړ کړی دی چې خپلو سیاسی مشرانو ته په وخت سپارښتنی کوی.

د مثال په توګه غواړم ګرانو لوستونکو ته د ګاونډیو هیوادونو د اوبو د مدیریت د موسسو پیژندنه وکړم:

۱- **پاکستان** – د پاکستان د اوبو د منابعو د پلټنو شورا – د تاسیس کال ۱۹۶۴. ( د سند د اوبو د قرار داد نه دری کاله وروسته). په هیواد کی د اتو مستقلو څانګو لرل. په ۲۰۰۷ کال کی د یوه قانون په توګه د یوه مستقل اداری


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مدیره هیات له خوا د دی مرکز رهبری کیدل. عمده وظیفې یې د اوبو، اوبو لګولو، زراعت، سطحی اوبو، د ځمکی لاندی اوبو، سرحدی اوبو او نورو اوبو په باب پلټنی کول دی. د دی اداری مرکز په اسلام آباد کی دی خو اته دفترونه یې په لاهور، بهاولپور، تندوجم، پیښور، کویټه، مظفرآباد، کراچی او ګلګت کی فعاله دی. دغه اداره د یونسکو غړی ده او تر اوسه یې د سلو نه ډیری ستری پروژې او تحقیقاتی کارونه عملی کړی دی.




۲. **ایران** – د خاورو او اوبو څیړنیز مرکز(موسسه تحققات خاک و آب) – د ایران د اوبو لګولو څیړنیز مرکز په ۱۹۵۲ کال کی مینځ ته راغلی وو چی عمده وظیفه یې د اوبو لګولو په مقصد د اوبو د زیرمو مدیریت وو او مځکو ته د اوبو د برابرولو په موخه مینځ ته راغلی وو. همدا راز په ۱۹۶۶ کال کی د خاورو د څیړنو مرکز هم د زراعت وزارت په چوکاټ کی جوړ شوی وو. په ۱۹۸۰ مو کلونو کی د دغو دوو ادارو د یو ځای کیدلو په نتیجه کی د خاورو او اوبو څیړنیز مرکز مینځ ته راغی. دغه مرکز چی مرکز یې د کرج په ښار کی دی ډیرش تحقیقاتی څانګی او دفترونه لری او تر سلو زیات څیړنیز ستیشنونه هم لری. د دی مرکز د عالمانو له خوا په کال کی د دری سوو نه زیات علمی مقالی د نړی په معتبرو ژورنالونو کی چاپیږی.




۳. **تاجکستان** – د اوبو د ستونزو،هایدرو انرژی او ایکولوژی انستیتوت په ۲۰۰۲ کال کی د تاجکستان د علومو اکاډمی په چوکاټ کی پرانیستل شو. دغه انستیتوت تر اوسه شپږ لابراتوارونه لری او نهه مهمو پلټنو باندی کار کوی چی په هغو کی د اوبو د برخی پلټنی عمده ځای لری. انستیتوت تر اوسه اته نړیوالی پروژې عملی کړی دی او ددغه انستیتوت غړو تر اوسه د دیرشو نه زیات علمی کتابونه چاپ ته رسولی دی. دغه انستیتوت د تاجکستان هیواد مشرانو ته د اوبو، انرژی، زراعت او اوبو لګولو په برخه کی علمی او تخصصی سپارښتنی کوی.




د ګاونډیو هیوادونو پرمختګونو ته په کتلو سره د اوبو د ښه مدیریت په باب زمونږ د هیواد کړنی تر اوسه بریالی نه دی. د امریکا له مداخلی وروسته دادی څه کم شل کاله تیریږی. په دی وخت کی د نړیوالی ټولنی ډیری مالی او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تخصصی مرستی هیواد ته راغلی دی. خو د اوبو د زیرمو په باب په لومړیو ۱۴ کلونو کی بی پایه غفلت وشو. د مالی منابعو او نړیوال سیاسی مساعد حالت سره سره زمونږ نظام ونشو کړای چې د اوبو د مهارولو لپاره قدم پورته کړی. په هغه وخت کی ګاونډیانو د اعتراض کولو قدرت هم نه درلود. د ۲۰۱۴ نه وروسته چې سیاسی اراده مینځ ته راغله نو بهرنی امکانات محدود شول او په کور کی د ښه مدیریت لانجه را مینځ ته شوه. په دوو دریو کلونو کی د څو مرکزونو جوړول، د دولت په چوکاټ کی د هغوی نه تمویلول اوبیا هیرول د ښه مدیریت بیلګی نه دی. له بلی خوا د دولت په داخل کی د ډیرو چاراوکو لپاره د اوبو د مسلی طرح او بیا د نویو ادارو جوړول زیادتره د اشخاصو لپآره د شخصی پرمختګ د چانسونو باربرول سره جوخت وو او د هیواد د ملی ګټو او زیرمو د ساتلو سره یی ډیر تړاو نه درلود. په همدی اساس په مختلفو وزارتونو او ادارو کی د اوبو د مراکزو جوړول او د افرادو لپاره د ادارو ړنګول او یا بیا جوړول تر سره شول چې دغه ستر فرصت یی په یوی لانجی بدل کړی دی.
اوس د هیواد مشرانو ته پکار ده تر څو ددغو څو علمی او څیړنیزو مرکزونو نه یو لوی مرکز جوړ کړی او هغه ته سمه بودجه او مالی امکانات ور په برخه کړی. دی ادارو ته دی وړ کسان و ګماری تر څو دوی وکولای شی د ګاونډیو هیوادونو د علمی سلا کارانو سره د خبرو او سیالی جرات او کفایت ولری. ځکه د اوبو د مدیریت یوه ستره برخه د ګاونډیو سره د اریکو او علمی بحث او د ارقامو د تبادلی موضوع ده، او که تخصصی وړتیا موجوده نه وی نو بیا په منطقوی او نړیوالو خبرو او کنفرانسونو کی د علمی بحث په برخه کی زمونږ تله همیشه سپکه ختلی ده.
افغانستان تر اوسه د اوبو په برخه کی د خپلو ګاونډیانو سره د خبرو اترو نه تیښته کړی ده او دا موضوع یی راتلونکو ته ماکوله کړی ده. د یوه متخصص په توګه زه دغه پالیسی نه تائیدوم. دا ډیره مهمه ده تر څو د اوبو په باب بحثونو کی متخصص افراد ګډون او د افغانستان د ګټو ساتنه وکړی. د افغانستان دولت ته پکار ده تر څو هغه سیاسی اراده چې د اوبو د ښه مدیریت په باب یی مینځ ته راوړی ده په عمل کی پلی کړی او  د دی طبیعی زیرمی د ښه ګټی اخیستنی شرایط برابر کړی.
نویو څیړنو ښودلی ده چې د افغانستان د سطحی اوبو اندازه به د تودوښی له کبله نوره هم ډیره شی او زمونږ ګاونډیو ته به ډیری اوبه ورځی. له بلی خوا به د هیواد د اوبو زیرمی د یخچالونو په وجود کی ورو ورو و چې شی ځکه چې د یخچالونو د ویلی کیدلو لړی به چټکه شی. نو د افغانستان دولت ته پکار ده تر څو د اوبو د ښه مدیریت په لاره کی کوټلی ګامونه واخلی. وخت او زمان اوس زمونږ پر خلاف روان دی او راتلونکی نسلونه به مونږ د بد مدیریت پخاطر و نه بخښی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ